# دافغانستان دماین پاکی پروګرام

## د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د اپریل میاشتې خبر پاڼه


## د افغانستان د ماین پاکی چارو پروګرام د ماین پاکی نړیواله ورځ ولمانځله

د ماین پاکی نړیواله ورځ د اپریل په څلورمه په نړیواله کچه لمانځل کیږی. سږ کال د افغانستان د ماین پاکی پروګرام نوموړی ورځ د بیلابیلو غونډو په لړ کې ولمانځله.

د اپریل په دریمه د اومر د موسسی په کوربه توب د ماین پاکی د بیلا بیلو پلی کوونکو موسسو له اړخه نوموړی ورځ ولمانځل شوه چی پکښی دملګرو ملتونو ځانګړی استازی ، د امریکا متحده ایالاتو سفیر او د کانادا سفیر ویناوی واورولې او د ماین پاکي چارو د ملاتړ ژمنې یې وکړي. دغونډې ټولو برخه والو د پلی کوونکو موسسو د ماینونو پاکولو وسایل، د اومر د ماینونو موزیم او د ماشومانو لپاره د ماینونو د خطر په اړه د زده کړو ټولګی چی د اومر موسسی له خوا د الوتکی په منځ کی چمتو شوی وو له نږدی وکتل. تر هغی وروسته ګډون کوونکو د افغانستان د ماین پاکی چارو د تکنالوژۍ مرکز (AMATC) څخه لیدنه وکړه چی د ماینونو د قربانیانو د ملاتړ پروژه بلل کیږی. په نوموړي مرکز کې د ماین قربانیانو ته د ماین پاکي وسایلو د جوړلو ښوونه ترسره کیږی. چی وروسته بیا نوموړی وسایل پر ماین پاکوونکو موسسو باندی پلورل کیږی ترڅو د ماینونو د قربانیانو او نورو معلولینو د ژوند په غوره کولو کی مرسته وکړی.

د اپریل په څلورمه نیټه د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز په انګړ کې یوه غونډه د فبروری د میاشتی د باغ بابر د انځور کاګلو د سیالیو په تعقیب ترسره شوه. چی غوره انځورونه د کتن پلاوی له اړخه په ګوته کړای شول چی یکی د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز لوړ رتبه چارواکی او د ماینونو د خطر په اړه د زده کړو د اداری غړی هم شامل وو. د انځور کاګلو د سیالیو ګټونکي د خپلو کورنیو سره رابلل شوی وو ترڅو خپل انځورونه د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز د دفتر په دیوال باندی د ماهرینو نقاشانو په مرسته رسم کړی.



تر دی وروسته د سیالیو ګټونکو ته د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز د عمومی رئیس ښاغلی ډاکټر محمد حیدر رضا له اړخه ډالی ورکړل شوی، او داسی یی وویل : " اوسمهال هم ماینونه هره میاشت ۴۰ افغانان مړه او زخمیان پر ځای پریږدی. ولی نوموړی شمیر د پخوا په پرتله یو پرمختګ دی چیرته چی هره میاشت د ۱۰۰ څخه زیات افغانان د ماینونو قربانی کیدل. ننی غونډه د ماین د خطر په اړه د زده کړو د ټیم یوه بله لاسته راوړنه ده. زه د تمویلونکو هیوادونو د مرستو څخه مننه کوم او د ګټونکو ماشومانو او د هغوی کورنیو ته مبارکی وایم چی له مونږ سره یی د ماین پاکی د نړیوالی ورځ په لمانځنه کی ګډون وکړ "


سیالیو ګټونکی ۱۰ کلن ځوان الهام احمد وردګ داسی وویل: "زه ډیر زیات خوشحاله یم او د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز څخه مننه کوم چی نوموړی غونډه یی چمتو کړیده او نورو ټولنو ته د ماین د خطر په اړه زده کړی ورکوی. زما پیغام نورو زده کوونکو ته دا دی چی: هیڅکله شکمنو توکو ته لاس ور نه وړی او په هکله یی ژر تر ژره خپلی کورنی او یا اړوند مسوؤلینو ته خبر ورکړی. "

همدارنګه د ماین پاکی چارو د سیمه ایزو دفترونو هم د ماین پاکی نړیواله ورځ د بیلا بیلو غونډو لکه د مطبوعاتی سفر او خپلو دفاترو ته د اړوندو ارګانونو په رابللو سره ولمانځله تر څو دماین پاکي په اړه لا زیات معلومات تر لاسه کړي. د ماین پاکی چارو د همغږی مرکز د جلال آباد سیمه ییز دفتر هم نوموړی ورځ د عالی لیسو د زده کوونکو تر منځ د انځور کاګلو د سیالیو په چمتو کولو سره ولمانځله. تاسو کولای شی چی د جلال اباد او همدارنګه د کابل د انځور کاګلو د سیالیو ګټونکی انځورونه د لاندې اړیکې http://www.flickr.com/photos/49017220@N05/ له لاری وګوری.

## دافغانستان دماين پاکی چارو دهمغږی مرکز دماين پاکي چارو دارزونې او څارنې مقياس بشپړ کړ

دافغانستان دماين پاکی چارو دهمغږي مرکز دهمغږي چارو داغيزمنتوب په موخه نوموړي مرکز د ارزونې او څارنې مقياس څخه ګټه پورته کړه کوم چې دپلي کوونکو موسسو دفعاليتونو د ارزونې او څارنې پايلې توحيدوي او دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز په بيلابيلو څانګو کې په بريالیتوب سره تر سره کړ. دنوموړي مقياس موخه دروانو کارونو بدلول نه بلکه دځار دفعاليتونو دپايلو راټولول دی.

دمقياس نوموړي صفحه د ۱۳۸۸ لمريز کال په لومړيو کې وکارول شوه چې له مخې يې دټاکل شويو موخو پر وړاندې يوه پلې کوونکې موسسه دبلې پر پرتله ارزول کيږي. نوموړی اصل دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز سره مرسته کوي تر څو ديوشان ټاکل شويو موخو پر وړاندې دپلي کوونکې موسسې دکار پايله ، څرنګوالی او اغيزمنتوب وڅاري. دغه کار نه يواځې ددوه پلي کوونکو موسسو په پرتله کولو کې مرسته کوي او دتمويل اړوند پريکړه کولو په برخه کې مرستندويانوته ګټور معلومات برابروي، بلکه پخپله دپلې کوونکو موسسو د پراختيا او پرمختګ لپاره يوه موخه ټاکي. ددې په پام کې لرلو سره چې دعملياتو برخه دپلي کوونکو موسسو تر ټولو اړينه برخه جوړوي او ۴۰ په سلوکې امتيازات ورته ځانګړي کيږي، ټول امتيازات ( سل فيصده ) دعملياتو ، دکيفيت دمديريت ، دماينونو دپيښو ، لګښت او راپوروکولو پنځه ګونو ځانګو په منځ کې ويشل کيږي.




The graph shows the results for seven IPs measured over the four quarters of 1388

دمقياس ۸۰ په سلو کې او ۱۰۰ په سلوکې پايلې دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز دقناعت تر ټولو لوړه کچه جوړوي . او دمقياس ۶۵ – ۸۵ په سلوکې دمنلو وړ دي په داسې حال کې هغه مسايل چې دپلي کوونکې موسسې امتيازات راټيټوي بايد برجسته شي او پخپله دپلې کونکې موسسې له خوا تعقيب شي. همدارنګه ۶۵ په سلوکې پايلې ضعيفه ګڼل کيږي او کيدای شي پلې کوونکې موسسه د فعاليت جواز له لاسه ورکړي او کومه بوديجه چې ورته دوجهي صندوق له لورې ورکړ شوې يوې بلې موسسې ته چې تر ټولو لوړه فيصدي يې خپله کړې ولیږدول شي.

ديوې پلې کوونکې موسسې ټول کارکوونکي کولای شي چې نوموړي امتيازات اغيزمن کړي که څه هم ديوې سيمې مسؤل خپل ریوټ پر وخت ونه ليږي او يا هم يو ماين پاک منل شوي دځان ساتنې موازين په پام کې ونه نيسې. همدارنګه نوموړی مقياس دپلې کوونکې موسسې دمسؤليت او حساب ورکونې بشپړونکی دی.

## د ۲۰۱۰ زیږدیز کال له جنوري څخه تر اپریل پورې دماینونو او ناچاوده توکو پیښې

| میاشت | ۱۸ کلن او له دې څخه کوچنیان | | له اتلس کلونو څخه لویان | | نامعلوم | ټول ټال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | | |
| جنوري | ۳ | ۳۲ | ۱ | ۲۲ | ۰ | ۵۸ |
| فبروري | ۱۴ | ۱۴ | ۳ | ۱۰ | ۱ | ۴۲ |
| مارچ | ۳ | ۳۹ | ۱ | ۹ | ۰ | ۵۲ |
| اپریل | ۰ | ۱۴ | ۰ | ۴ | ۰ | ۱۸ |
| **ټوله مجموعه** | ۲۰ | ۹۹ | ۵ | ۴۵ | ۱ | ۱۷۰ |

## په افغانستان کې دماین پاکولو موخې

**داوتاوا پریکړې :**

* تر ۲۰۱۳ زیږدیز کال پورې په بشپړه ټوګه د پرسونل ضد ماینونو پاکول.
* تر ۲۰۰۷ زیږدیز کال پورې دپرسونل ضد ماینونو دزیرمو له منځه وړل.
* افغانانو ته دماین دخطرونو په اړه دزده کړو ورکول او له ماین څخه اغیزمنو کسانو سره مرسته .

**دافغانستان (Compact ) ژمنې :**

* هغه سیمې چې په ماینونو اوله جګړوپاتې ناچاوده توکو ککړې دي د۲۰۱۱ کال داپریل تر میاشتې به په سلو کې ۷۰ پاکې شي .
* دپرسونل ضد ماینونوزیرمې به د ۲۰۰۷ زیږدیز کال داپریل تر میاشتې په بشپړه توګه له منځه ویوړل شي.

**د پرسونل ضد ماینونو دزیرمو له منځه وړل:** افغانستان داوتاوا دپریکړو دڅلورمې مادې له مخې چې د ۲۰۰۷ زیږدیز کال داکتوبر په میاشت کې به دهیواد په کچه د پرسونل ضد ماینونوټولې زیرمې له منځه وړې ترسره کړه .

## هغه کلیدي ټکي چې په افغانستان کې دماین په اړه دموخو دترلاسه کولو په برخه کې مرسته کوي .

* د شته ظرفیتونو ساتنه.
* په ټولنو کې دځلکوله خوادماین پاکولو دپروګرام پراختیا.
* د ماین پاکی دځانګړو پروژو پروګرام .
* د موسساتو او دماین پاکي کمپنیو له خوا د آزادو سیالیو له لارې دماین پاکي دچارو پر مخ بیول.
* دماین پاکي دموخو دلاس ته راوړلو لپاره دکافي بودیجې برابرول .

## دموخو دترلاسه کولو په وړاندې ستونځې

*دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږۍ مرکز باید دافغانستان دژمنې او داوتاوا دکنوانسیون دپریکړو موخو ته درسیدو لپاره په خپلو مالي سرچینو کې زیاتوالی راولي. دڅو پیسو ورکړه باید له وړاندې تر سره شي په دې معنی چې پیسې باید دکال له پیل څخه وړاندې پروګرام ته ورکړ شي تر څو له هغه څخه په سمه توګه ګټه پورته شي. که پیسې له وړاندې ورکړشي نو پروګرام ددې تخنیکي وړتیا لري چې ټاکلې ټولې موخې تر لاسه کړي .*

## د ۲۰۱۰ زیږدیز کال له جنوري څخه تر اپریل پورې دماین پاکۍ لاس ته راوړنې

* ۷،۲۷۹ دپرسونل ضد ماینونه ، ۲۹۲ دټانک ضد ماینونه او ۲۷۲،۰۸۱ نا چاوده توکي له منځه ویوړل شول.
* ۳۳ داستوګنو سیمی دماینونو او نورو نا چاوده توکو له شتون څخه پاکې اعلان شوې.
* ۱۳۵،۴۶۲ ښځو او نجنونو او هلکانو ته دماین دخطر په اړه زده کړې ورکړل شوې.

## دموخو دجدول په اړه نوټ

**دموخو جدول :** کله چې د ۲۰۰۶ زیږدیز کال دجنورۍ په میاشت کې دافغانستان ژمنه (کامپکټ) لاسلیک شو ، دخطر سیمه ۷۱۹ کیلومتر مربع ټاکل شوې وه. له دې کبله دخطر دسیمې ۷۰ په سلو کې پاکول چې ۵۰۳ کیلومتر مربع کیږي دافغانستان ژمنه جوړوي. دموخو لاندنی جدول په ګوته کوي چې تر دې مهاله ۵۷۴ کیلومتر مربع څمکه پاکه شوې . په دې معنی که چیرې لومړنی ټاکل شوې موخې نه وای بدل شوې ، نو دافغانستان دماین پاکي پروګرام  په سلو کې د ۷۰ ټاکل شوېو ژمنو څخه لا زیاتې سیمې پاکې کړي دي.

که څه هم هغه لومړنی موخې چې هغه مهال ټاکل شوې وې، په حقیقت کې دخطر دسیمو کټلی انځور نه جوړوي. خو دتیرو کلونو په ترڅ کې ډیر کارونه تر سره شول تر څو داړ تر لاسه شي چې په ملي معلوماتي ذخایرو کې دخطر دسیمو دقیقه شمیره شتون لري. ددغو بدلونونو په اړوند دلازیاتو معلوماتو لپاره د ۱۳۸۹ لمریز کال دکاري چوکاټ ۲۵-۲۶ مخونو ته مراجعه وکړئ چې د  www.macca.org.af انټرنټ پاڼې له لارې ورته لاسرسی پیدا کولای شی. په لنډه توګه ، دغه کار په لومړنیو ټاکل شویو موخو کې دزیادت لامل شو.

لومړنی ټاکل شوې موخې او دهغو لور ته پرمختګ په لاندې جدول کې ښودل شوي: په داسې حال کې چې دخلکو دبیرته راستنیدلو بهیر هیواد ته روان دی او خلک بیرته خپل هیواد کې میشت کیږي دخطر دنویو سیمو د موندلو بهیر به هم دوام ومومي. سر بیره پر دې دهیواد سهیل لور ته دشورشیانو له خوا یو شمیر دخطر نورې سیمې جوړې شوې خو نه دکمربند په څیر په لوړه کچه. نو له دې امله داسې اټکل کیږي چې لومړنی موخې به بیا تغیر ومومي او موخو ته رسیدل به دننګونو پر بنسټ له خنډ او ځنډ سره مخ شي.

**دماین پاکولو دموخو د ترلاسه کولو لور ته دافغانستان پرمختګ: داوتاو دکنوانسیون او دافغانستان د ژمنې (کامپکټ) له مخې تر ۲۰۱۱ زیږدیز کال پورې ۷۰ فیصده  دماین دسیمو دکچې ټیټول او تر ۲۰۱۳ پورې دټولو ماینونو له منځه وړل.**

| | د ۲۰۱۰ زیږدیز کال په اپریل کې تعدیل شوې موخې | د ۲۰۱۰ زیږدیز کال داپریل په ۳۱ماه کې په ماینونو ککړې پاتې سیمې | هغه سیمې چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال دمارچ تر ۳۱مې پورې پاکې شوې | ۷۰ په سلو کې ټاکل شوې موخې | دافغانستان دژمنې له مخې دټاکل شویو موخو لاس ته راوړل | داوتاوا دتړون له مخې په سلو کې دموخو لاس ته راوړل | داوتاوا دتړون له مخې دټاکل شویو موخو لاس ته راوړل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **دخطر دسیمو شمیر** | ۱۱،۷۳۶ | ۶،۶۶۸ | ۵،۰۵۳ | ۸،۲۱۵ | ۶۱% | ۱۱،۷۳۶ | ۴۳% |
| **دخطر دسیمو مساحت ( کیلومتر مربع)** | ۱،۲۳۱ | ۶۵۷ | ۵۷۴ | ۸۶۳ | ۶۷% | ۱،۲۳۱ | ۴۷% |

## دماین پاکولو ستراتیژي

دافغانستان دماین پاکولو د ستراتیژي له مخې چې افغانستان باید د ماینونو او ناچاوده توکو له شتون څخه پاک هیواد وي، چیرته چې خلک وکړای شي په امن کې ژوند وکړي او دهیواد دپرمختګ لپاره لاره هواره کړي او دماینونو او ناچاوده توکو څخه اغیزمن کسان وکړای شی په ټولنه کې په کار بوښت شي ، حقونو او غوښتنې یې په ګوته شي او اعاده شي.

ددې لپاره چې دغه لرلید په حقیقت بدل شي دافغانستان دملي پرمختیا د ستراتیژي په چوکاټ کې ځینې موخې ټاکل شوي چې داوتاوا دکنوانسیون دپریکړو سره سمون لري.

## دماين پاکي چارو دملي ظرفيت لوړول



دڇهار آسياب په ولسوالی کی د MDDدماين پاکولو تيمونه - جون ۲۰۰۹

دافغانستان دماين پاکی چارو دهمغږي مرکز ( MACCA ) چې دملګرو ملتونو له خوايې ملاتړ کيږي دپيښو سره دمبارزې درياست ( ANDMA ) په چوکاټ کې دماين پاکولو درياست ( DMC ) له لياری دګډ کار لپاره لاره هواره کړه تر څو په افغانستان کې دماين اړوند چارو دپلان جوړولو ، هم غږی او دکيفيت دښه کولو چارې تر سره کړي . دوزارتونو تر منځ وروستی غونډه داپريل دمياشتې په ترڅ کې تر سره شوه چې پکې دمس عينک دموضوع تر څنګ پر نورو مهمو موضوعاتو بحث وشو او دوزارتونو تر منځ معلومات شريک شول.

## دافغانستان دماين پاکی پروګرام او دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز په اړه معلومات



دسمنګانو په ولايت کي دماين پاکي عمليات

دماين پاکی بشري پروګرام په کال ۱۳۶۸ کې په افغانستان کې رامنځ ته شو چې دماين پاکي ټول ارکان پکې نغښتي دی لکه تبليغات ، سروې ، دماينونو پاکول ، دماينونو دزيرمو له منځه وړل ، دماينونو دخطر په اړه زده کړې او دماينونو له قربانيانو سره مرسته. دافغانستان دماين پاکی پروګرام دملګرو ملتونو د وجهې صندوق او نورو دوه اړخيزو او څو اړخيزو لارو تمويليږي.

په افغانستان کې دماين پاکي پروګرام ټولې همکاره موسسې چې په مجموعی ډول دافغانستان دماين پاکې په نوم پيژندل کيږي په نړی کې تر ټولو لوې دماين پاکی پروګرام جوړوي .دغه ټولې موسسې په افغانستان کې دماينونو دپاکولو په برخه کې ۲۰ کلنه بريالی سابقه لري چې ۱۲،۰۰۰ په ماينونو ککړې سيمې يې دهيواد په کچه پاکې کړي. دافغانستان دماين پاکی پروګرام چارې دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږې مرکز له خوا همغږې کيږي چې دملګرو ملتونو له خوا تمويليږي. دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږې مرکز په پروان ، هرات ، جلال آباد ، مزار ، کندز ، ګرديز ، او قندهار کې سيمه ييز دفترونه لري چې دماين پاکي چارو دهمغږې دسيمه ييزو مرکزونو په نوم ياديږي.

**هغه هيوادونه چې دافغانستان دماين پاکی له پروګرام څخه ملاتړ کوي:**

